**AFGHAN GERMAN ONLINE**
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de

افغان جرمن آنلاین

پوهنمل حاجی محمد نوزادی ۲۰۱۲/۱۲/۱۷

# د امریکا په نوی څارګریز راپور کی څو د پام وړ ټکی

د ( 24timer ) په نامه ډنمارکی ژبی ورځپاڼی د خپلی ۱۲ / ۱۲ / ۲۰۱۲ نیټی په ګڼه کی د « **امریکا په ۲۰۳۰ کال کی اسیا ته د خمکی دکری د زبرځواکی د مرکز په توګه ګوری** » تر سرلیک لاندی د امریکایی څارګریز راپور پر بنسټ یوه لیکنه خپره کړیده. دا لیکنه ماته ځکه په زړه پوری وګرځیده چی دلته د یوی خوا پخپله د امریکایی څارګری کړیو پر بنسټ یو لړ انکار نه منونکی اعترافونه شوی او دبلی خوا دا پایلی زما دهغی څیړنیزی لیکنی دځینو ټکیوسره هم د ورته والی تړاو درلو دلای سی چی په ۲۰۱۱ کال می د (د « ژړ خطر» پوتنشیال او د« سپین خطر» واقعیت ) تر سرلیک لاندی لیکلی وه او یو زیات شمیر افغانی بریښنایی رسنیو په درو برخو کی نشر چی لا اوس هم دهغوی په ارشیفونو کی پرته ده او مینه وال یی لوستلای شی. مخکی لدی نه چی د ژړو او سپینو خطرونو و څرنګوالی ته راوګرځو، ښه به داوی چی د نوموړی ورځپاڼی څخه نشر شوی متن پښتو ته را وژباړو څو لوستونکی یی هم تر نظر تیر کړی:

هوفینګتون پست ( Huffington Post ) ته په امریکای څاګریز راپور کی د زیات شمیر وړاندوینو څخه څو څځیدلی ټکی رارسیدلی دی چی له مخی به یی په ۲۰۳۰ کال امریکا د نړی د اقتصادی زبرځواک په توګه خپل ستاتوس ( مؤقف ) د چین په ګټه دلاسه ورکړی مګر دنړیوالو مسئلو په مخته بیولو کی به لا د زبرځواک په توګه یو مخکښ رول ولری.

په راپور کی وړاندوینه شویده چی په ۲۰۳۰ کال کی به دنړۍ د اوسیدونکو زیاته برخه دفقر د خط نه په لوړه کچه کی ژوند کوی. دخلکو منځنی طبقه به د اقتصادی او ټولنیز مؤقف له مخی د پام وړ او مهمه طبقه وګرځی. آسیا به یوار بیا راژوندی شی او په نړی کی به یو ځل بیا د نړیوال زبرځواک په توګه خپل هغه بایللی مؤقف تر لاسه کړی چی په منځنیو پیړیو کی یی درلود. پدی کار سره به د لویدیزی نړی نژدی ۳۵۰ کلن صعودی ( لوړیدونکی ) قوس نزولی ( رالویدونکی ) بڼه غوره کړی او وروسته به پاته شی.

د راپور له مخی به دیموکراسی د نن ورځی په پرتله ډیره زیاته پراخه شی، خو د دی سره سره به زموږ د ځمکی کره د جنګ او نظامی مقابلو له خطره په امان نه وی. د دی دول شخړو زیاته برخه به د خوراکی موادو او څښلواوبو د ترلاسه کولو پخاطر وی. « د امریکا ملی څارګری شورا » ته دا راپور پدی خاطر وړاندی شویدی چی په راتلونکو لسیزو کی د امریکا د ستراتیژیکو موخو په اړوند پر یادو شوو وړاندوینو باندی غور وکړی.

په ۲۰۳۰ کال چی نړی به لا هم د هرج و مرج نه ډکه، چین به په نړی کی تر ټولو ستر اقتصادی ځواک ګرځیدلی وی او د زیرمو د کنترول پخاطر به چی لا کافی ندی، هلی ځلی روانی وی، ښایی چی امریکا به بیا هم د خپلو سیالانو تر منځ لومړی ځای ولری.

په راپور کی پردی خبره ټینګار شوی چی چین به په ۲۰۲۰ وکلنو په جریان کی د اقتصادی پرمختګ له مخی امریکا شاته پریږدی او دنړی دتر ټولو ستر اقتصادی ځواک په توګه به میدان ته را ووځی. البته دا خبره په نورو ډیرو بی پری څیړنو او وړاندوینو کی پخوا هم یاده شویده. مګر د دغه اوسنی راپور پر بنسټ به امریکا لا نور هم د دوو لسیزو په موده کی د نړی مخکښ اکتر (لوبغاړی) پاته وی، دا ځکه چی د زبرځواک په توګه به لا هم د نړیوالو بحرانونو د حل په هلوځلو کی د خپل اداری تخنیک او ورسره پاته قوت پربنسټ خارجی مینه وال ورته سترګی په لار وی.

د AFP خبری آژانس له مخی پدغه ۱۳۷ مخیز راپور کی دا موضوع داسی یاده شویده چی امریکا به په بشپړ ګمان سره په ۲۰۳۰ کال کی هم د نورو سیالو سترو قوتونو تر منځ د خپل ورپاته توان پربنسټ لومړی ځای ولری. پدغه نوی عصر کی به امریکا په نړیوال سیاست کی خپل هغه رول لانور هم وغځوی چی د ۱۹۴۵ کال راهیسی پیل او ترلاسه کړی وو.

راپور وړاندوینه کوی چی پدغه نوی عصر کی به د آسیا اقتصادی چاری، نظامی لګښتونه او په تکنالوژیکی چارو کی پانګه اچونی دشمالی امریکا او اروپا څخه په ګډه، زیاتی مخته ولاړی شی. په راپور کی د چین په هکله د بی باوریو په اړوند حبرداری هم ورکړل شویدی. که چیری چین پدی و نه توانیږی د نوښتونو پر بنست یو د زغم وړ اقتصادی مادل منځته راولی، که څه هم په آسیا کی یو مخکښ اکتر پاته شی، مګر دغه د پام وړ اغیز به یی په زړه پوری پایلی ونلری. امریکایی شنونکی پدی اند دی چی چین به یو نړیوال قدرت وګرځی مګر پدی کار کی به یی چټکتیا ډیره سسته او ګرنډي به نه وی. دغه شنونکی وایی داسی یوه سناریو به منځته راشی چیری چی چین کیدلای شی د خپل ځان د پاره ډیر بد دښمن وګرځی، ځکه چی نور ډیر هیوادونه به د امریکا سره د یوه ائتلاف په لټه کی شی. دا هغه ټکی دی چی د راپور د لیکونکی دلې څخه د Mathew Burrows په نامه یوه تن یی یادوونه کړیده.


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولئ

په راپور کې راغلي دي چې د تکنالوژيکي پرمختيا له کبله به د پرمختګ په لور يو ستر ګام واخيستل شي، مګر دا انديښنه هم بايد له ياده و نه غورځول شي چې په ۲۰۳۰ کال کې به اقليمي بدلونونه هم ډير جدي چالشونه منځته راولي. د امريکا د ملي څارګرۍ شورا مشر ښاغلی Christopher Kojm پدې اړوند وايي: « نړۍ به په ۲۰۳۰ کال کې زموږ د ننني نړۍ په پرتله په راډيکال ډول بدلون موندلی وي ». نړيوال بدلونونه به په هغه کچه مهم وي چې کيدلای شي د داسې تاريخي سترو پيښو سره يې اهميت او اغيز پرتله شي لکه د فرانسې انقلاب او يا صنعتي انقلاب چې په نړۍ کې رول لوبولی دی.

Christopher Kojm زياتوي: « موږ د بشر په تاريخ کې يوې داسې څلورلارې ته رسيدونکي يو چې هلته ډيرې بيلابيلې لارې راخلاصې دي ». په ۲۰۳۰ کال کې خو به چين د نړۍ د ستر اقتصادي زبرځواک په توګه امريکا شاته وغورځوي، مګر د امريکا نظامي توان او د قدرت څخه د نرم کاراخيستلو وړتيا به ښايي دا وښئي چې امريکايان لا هم دنړيوال سياست په چارو کې يو د پام وړ ملت دی.

دا خو هغه وړاندويني وې چې په ۲۰۳۰ کال کې به ترسره شوي وي. د ۲۰۳۰ کال د رارسيدو نه په وړاندې موده کې د راپور د وړاندوينو څخه غټ ټکي کيدلای شي په لاندې ډول را لنډ شي:

– د راتلونکي په هکله د امريکايي شنونکو د وړاندويني سره سم به د ۲۰۳۰ کالو درارسيدو په درشل کې نړۍ په بې شانې چټکۍ سره بدلون ومومي.

– آسيا به په نړۍ کې تر ټولو ځواکمنه سيمه وګرځي، د دې سره به سم د لوديزو هيوادونو ځواکمنې له پښو ولويږي.

– پدغه موده کې د يوه نوي نړيوال جنګ تهديد عملي بڼه نلري او نړۍ به د دې خطر څخه په امان وي.

– د نوي نړيوال جنګ پرځای د Pandemics(پراخو ډله ايزو) عفوني ناروغيو (infectious disease ) د خطر امکانات ردولای نشو.

– د ۲۰۳۰ کال تر رارسيدو د مخه د دې کار ډير امکان شته چې اروپايي اتحاديه به سرنګونه او دړې وړې شي.

د ژباړې پای

**د ژباړونکي يادوونه:**

په لوړ راپور کې ځينې ټکي پدې ارزي چې غور وربانديې وشي لکه:

– دا راپور پخپله د څارګرو شنونکو د اوږدو څيړنو پايله ده چې د اعترافونو ډکې وړاندويني يې د راپيښيدونکو واقعيتونو سره اړخ لګوي او دراپور ليکونکي دا پروسه هغه څه بللي چې د مخنيوی امکانات يې صفر ته نژدې دي. ځکه نو دوی د امريکا چارواکو ته دا وړانديز نلري چې د مخنيوي پخاطر يې سر د اوس نه ليڅې راونغاړي.

– په راپور کې نه يوازې د چين او امريکا حالاتو ته پام اړول شويدی بلکه نړۍ ته په ګلوبال ډول کتنه شويده چې له مخې يې د آسيا، اروپا او امريکا حالاتو ته په ځير سره کتل شوي او دسرنوشت په اړه يې وړاندويني شويدي.

– د راپور ليکونکو دا منلې ده چې امريکا به تر ۲۰۳۰ کال د مخه د اقتصادي ستر ځواک په توګه خپل ځای چين او د اروپا او امريکا لويې وچې به ځای آسيا ته خوشې کړي. مګر دغه شنونکي لا تر اوسه خپل زړه پدې خوشالوي چې ګويا پسله دې به هم امريکا په نړيوال سياست او نظامي ډګر کې يو مخکښ زبرځواک پاته وي. ښايي د راپور ليکونکو به داخبره له ياده ايستلي وي چې اقتصاد هر وخت او د تاريخ په ټولو پړاوونو کې د ټولنو بيخ جوړښت (زيربنا) په توګه ټاکونکی رول درلودلی او نورې ټولې چارې د همدغې پديدې تر حکم لاندې مخته تللې دي. دا يو انکار نه منونکي ټولنيز قانون دی چې پسله دې به هم په همدې شان مخته ځي. دا هم يوه طبعي خبره ده، کيدلای شي د څه مودې د پاره د امريکا اوسنی نظامي توان خپل اغيز نورهم وساتي خو دا چې اقتصادي بنسټ يې سست دی نو حساب وربانديې کول بيځايه کار دی. يکار ده چې نه يوازې د راپور ليکونکي بلکه ټول امريکايان بايد سر داوس نه په سايکولوژيکي لحاظ ځان د دې ترخه واقعيت سره پخلا کړي چې نور د امريکا د زبرځواکي تغر په ټوليدو دی .

– په راپور کې ترټولو په زړه پورې او اميدواره کوونکې ټکی دادی چې چې په ۲۰۳۰ کال کې به دنړۍ دوګړو لوی اکثريت د فقر دخط نه لوړ ژوند وکړي او دټولنې منځنۍ طبقه به تر ټولو پراخه طبقه وي. ټولې هغې ټولنې بدمرغې ټولنې دي چې منځنۍ طبقه يې وړه او کښتنۍ طبقه يې پراخه وي. هرڅومره چې د وګړو د ژوند کچه د فقر دخطه نه لوړه ځي، دا کار تر لويه بريده د کښتنې طبقې په حساب ترسره کيږي. د دې خبرې اصلي مانا داده چې د فقيرانو ژوند ښه کيږي او د کښتنې طبقې يانې د غريبانو له ډلې نه وځي. دا هغه څه دي چې زموږ په خاورينه کره کې په د ميلياردو کسان ورته سترګې په لار دي.

– د راپور بل په زړه پورې ټکی دادی چې که څه هم په نړۍ کې به هرج او مرج او آن دسيمه ايزو جنګونو د پيښيدو امکانات وی خو د نوي نړيوال جنګ د پيښيدو امکان په بنسټيز ډول رد شويدی. دا خبره پداسې حال کې کيږي چې تر ۲۰۳۰ کال پورې کيدلای شي يوازې په اسيا کې د چين، هند او پاکستان برسيره ايران او شمالي کوريا هم د


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

يوه اټمی ځواک په توګه سر راپورته کړی. روسيه چی ډيره برخه يی په آسيا کی ده او يو زورور اټمی ځواک دی، هم کيدلای شی په حساب يی د آسيا د ځواکمنی اټکل وی.

ــ په راپور کی د آسيا اقتصادی ځواکمنی ته ځو ځلی آو په ټينګار سره اشاره شويده. پدی برخه کی کيدلای شی چين، هند، جاپان، جنوبی کوريا، ماليزيا . . . د پام وړ رول ولوبوی. دلته رښتيا هم اړينه ده چی پدی لويی وچی کی يو لړ نوی داسی اقتصادی ماډلونه په کار ولويږی چی له مخی يی د راکړی ورکړی اړيکی د هر اړخ د پاره ګټوری وګرځی او په ټولو آسيايی هيوادونو کی يو معقول اقتصادی انډول (توازون) منځته راولی. آسيايی شتمن هيوادونه بايد په اروپا، امريکا، افريقا او استراليا کی خپل بازارونه لا نور هم پراخ او د ودی په حال کی ګاونډيانو د پاره هلته په بازار موندنه کی مرسته وکړی. د زيرمو څخه د اغيزمن کار اخستلو پخاطر پکار ده چی د اروپايی اتحاديی پشان د يوه بنسټ پر رامنځته کولو باندی سر د اوس نه فکر وشی. زما په اند په آسيا کی به تر ټولو لويه ستونزه دا پاته شی چی څنګه د وګړو د زياتيدو د مخنيوی چاری عملی کيدلای شی. پدی تړاو د چين ماډل تر يوه حده اغيزمن دی مګرد آسيا په نورو هيوادونو کی د دی ماډل نه کاراخيستل آسانه کار ندی چی بايد پرالترناتيف باندی يی فکر وشی.

**پای**


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ